# د پښتو لومړۍ افسانه په کوټه، پښین او کندهار کښې، که د لرم پېرنګي د وزیرستان کیسه

## Pashto First Short Story Written In Pishin, Quetta,Kandahar Or J.G Lorimar's Story of Waziristan

عبدالکریم بریالی*

**Abstract:**

As the very start of Pashto literature like of other literatures is vague. Similarly the first writers of some of the literary geners are also surely known yet.In this connection, Abdul Karim Baryali, opposing QalandarMomand's claim argues that J.G.Lorimar is not the first short storywriter of Pashto literarture. He states that the said story had beentold to J.G. Lorimar by Malak Mohammad Akbar wazir, entitles"The life style and customs of Wazir's" had been written in forty sentences demonstrating the cultural values of the people of Waziristan. Karim Baryalai opines that in the 10th volume of the Linguistic survey of India, a story of Pashto from Pishin and Kandhar sent through the A.G.G Quetta to Grearson is actually the first Pashto short story. He further says that Mr. Ismail, the teacher and colleague of Major Roverty who was scholar of Pashto also, might have sent first Pashto short story from Pishin/ Kandahar through A.G.G Quetta linguistic survey of India.

د پښتو ژبې ادبي لیکونکو د شلمې پېړۍ په لومړي نیمائي کښې د ادب په منظوم او نثر باندې بشپړ کار پېل کړی ؤ. د کال **۱۹۳۵** ء را په دې خوا د پښتو او فارسي لوئ استاد عبدالحی حبیبي " تاریخچه زبان و ادب پښتو "، "پښتانه شعراء " او " د پښتو ادبیاتو تاریخ " د شلمې پېړۍ د انګرېزي ،فارسي او اردو ژبو په پېروي کښې د هغه وخت د خصوصي دود لکه لسانیات (فلالوجي) او د ژبې د قدامت په هکله زیات زور اچولی ؤ او د شاعرانو په تذکرو کښې د هغه شاعر ژوند ،وفات، کار او د شعرونو نمونې ورکړې دي ورسره ئې د ادب د ارتقاء په اردو باندي هم بحث کړئ دی او

*عبدالکریم بریالی د پښتو ژبې لوی څېړونکی او نقاد دی. په سهېلي پښتونخوا کښې پر لویو لویو انتظامي څوکیو پاته شوئ او په ۲۰۱۰ ع کښې ریټائرډ شوئ.

هر ادبي مؤرخ د خپل استعداد او ادبي تحليل مطابق تقسيم هم کړئ دی.دا روايت تر نن ورځې پورې ساتل شوی دی.په ورستني دور کښې چا بيا د شاعرانو د مکتبونو وېش کړئ دی او چا بيا په ملفوف انداز کښې د تحريک نوم ورکړئ دی.

د پښتو ادب پړاوونه او د ادوارو تقسيم يا مکتب ورته وئېل او يا د تحريک نوم ورکول هم يوه مغالطه پيدا کړې ده.د پوهنتون څېړونکو خپلې عملي مقالې د ضرورت د پاره ځان تر خپل هدف پورې محدود ساتلی دی.ځکه د ابياتو يو بشپړ تاريخ په لره او بره پښتونخوا کښې تر اوسه پورې نۀ دی پېل شوی چې د اختصار او باوري اسنادو څخه کار په مرتب ډول اخلي.

د يوشتمي پېړۍ په اخر کښې انګرېزانو ليکوالانو چې مستشرقين ورته وائي.د پښتو د نظم او نثر چونړ شوې ادب پارې راغونډې کړې وي.دغه مواد په دې مقصد باندې خپارۀ شول چې انګرېزان افسران د پښتو ژبې سره بلد شي.د سول او ملټري افسرانو د پاره کورسونه جوړ شول.د هغو د پاره د وخت پوهانو او عالمانو له دې نثري کتابو او شاعرانو له ديوانو څخه انتخاب چاپ کول چې بيا ئې انګرېزانو ته درس ورکاوۀ.په دې پوهانو کښې مولوي احمد د تنګي ،مير احمد شاه رضواني،مولوي محمد اسماعيل ،مولوي محمد سعيد او نور ډېر نومونه يادونې وړ دي.

هغه وخت انګرېز افسرانو ته د پښتو د زده کړې مقصد لومړنی هدف ؤ ځکه خو ئې په ګرائمر او لغاتو باندې هم زياته پاملرنه کړې وه.د انګرېز فوجي افسران به ورته سول افسران جوړ شو او په پښتو کښې به ئې ژوند تېراوۀ او د دوئ ژبه او دود و دستور به ئې ټول زده کړي وو.

د پښتو ژبې د نثر او خپرونې د پاره بل هيڅ وسيله نۀ وه سيوا له دې چې انګرېز افسرانو به په خپله پښتو ګرائمر او د هغه لهجې پوره معلومات د خپلو منشيانو او د اولس د ملکانو څخه اخستل.

دغسې يو انګرېز فوجي او وروسته سول افسر جې.جې .لورېمر چې د پنځو څخه تر لسو کالو پورې په وزيرستان کښې پاته شوی ؤ .کله چې د جنوبي وزيرستان پوليټيکل افسر ؤ نو ئې په کال ۱۹۰۲ ء کښې له کلکتې څخه د

وزیري پښتو ګرائمر او لغات چاپ کړو او د دې ژبې سره د زښته زیاتې مینې په وجه ئې خپل کتاب په پښتو وزیري لهجه کښې د خپل افسر ایجرټن(ایجرټان صاحب جرنېل) په نامه انتساب کړئ دی او لیکي چې "ځکه د هغۀ په نوم مې ولیکه چې یو کول په توچې کښې په مو باندې داسې مهرباني ئې کړې لکه موشران چې په کشروني بوندې مهرباني کو،دستخط د لړم د پیرنګې"(1)

د کتاب څلوېښت صفحې ګرامري بیان لري .دوه نیم سوه صفحې لغات دې او وروسته درې ضمیمې دي چې په یوه کښې د پېراپیل آف دې پراډیګل سن (د ورک زوئ کیسه) ،د فضول خرڅ هلک کیسه،له بائیبل څخه په وزیري لهجه لیکې ده او په دوهمه ضمیمه په څلوېښتو جملو کښې نمبروار د عبارت په ترتیب یوه اولسي کیسه لیکلې ده چې د توري خېلو مشر ملک ماد اکبر ورته کړې وه چې په درې سوه دېرشمه صفحه باندې د هغۀ یادونه کوي"(2)

استاد قلندر مومند په کال ۱۹۷۶ء یکم مارچ په ورځني انقلاب پېښور میاشتني ایډیشن کښې یو مضمون (د پښتو وړومبنی افسانه نګار) په نامه یو مضمون خپور کړ"(3) په دې مضمون کښې استاد قلندر مومند د دې کیسې لیکولو په بنیاد دا دعوه کړله چې انګرېز لوریمر په کال ۱۹۰۲ ء د دې کیسې لکلو په وجه د پښتو افسانې وړومبنی افسانه نګار ګرځول شوی دی.

قلندر مومند ته هغه وخت سیده بشری بېګم (س ب ب ) دا واقعه هم وئیلې وه چې د دوئ د خاندان د روایت په بنیاد د ابوالمعاني میاں آزاد ګل (۱۹۵۰-۱۸۹۵) وړومبۍ افسانه لیکلې او چاپ کړې ده.استاد لیکي چې:

"که څه هم د اټکل له رویه د هغه د چاپېدو کال ۱۹۱۰ء بیانیږي خو دا اټکل د دوئ رهنمائي نۀ کوي،ولې چې میاں آزاد ګل چې د لیکوال په حېث تسلیمېدو نو هغه وخت راحت زاخېلي نۀ ؤ تسلیم شوی.که څۀ هم د (قصه خوانۍ ګپ) کتاب د زاخېلي د یو نیم شعر او کتابت علاوه نور څېزنشته ځکه نو هغوئ د میاں آزاد ګل د چاپ شوي

افسانې په انتظار کښې ؤ.څو ئې موندی خو ژوند وفا وه نۀ کړه او په دې مضمون کښې ئې د لوريمر (لړم پيرنګي) دا اوربدلې قيصې ته د ړومبۍ افسانې قياس وکړ.

استاد د قلندر مومند د لوقا د انجيل هغه قيصه يا تمثيل د دنيا له ټولو ړومبۍ افسانه شايد هغه وخت بللې وه چې قند مردان افسانه نمبر ۱۹۵۸ء کښې دوئ عرض کړی ؤ.(4)

دلته استاد دوه ځايه سهوه شوی دی لومړۍ افسانه يا تمثيل چې د نړۍ په تاريخ کښې ثبت شوی دی نو هغه نومتو مؤرخ ټائن بي په خپل کتاب (Man kind and Mother earth) انسان او مور مځکه(۱۹۷۵) کښې ذکر دی.نو هغه د اکاديانو په زمانه ۱۲۵۰-۱۷۳۰ ق م کښې دانظم د جېلجا مېش د سوميري خلګو هغه په حماسي نظم کښې ؤ چې د ژوند د درختې په لټولو کښې ئې ماته خوړلې وه."(5)

اکاديانو د اپه سوميري رسم الخط کښې د خاورو پر تختۍ ليکلې او هم د دې ژبې په سوب مصر تر شام او فلسطين پورې ورسېد.دويمه سهوه د انجيل لوقا (د ورک زوئ قيصه) چې د انجيل کومه حواله ورکړې ده نو د هغه ايتونه غلط ليکل شوي دي.استاد قلندر مومند ليکي چې:

"دا قيصه د لوقا د پنځلسم باب د يولسم آيت نه ۴۳ ايته پورې راغلې ده"(6)

دا آيت د يولسم څخه تر دوديرشم پورې راغلی دی که دا د کتابت غلطي نۀ وي نو خو ښکاره لويه ګناه شوې ده.زما په مخکښې د انجيل د نولسمې صدۍ او د شلمې صدۍ د برټش فارن بائبل سوسائټي نسخې دي او په تېره بيا د کال ۱۱۶۱ء د king مستند نسخې شته چې د لوقا د پينځلسم باب دا آيت څخه تر ۳۲ پوري راغلی دی او ۴۳ غلط دی.

بيا د کال ۱۸۱۸ ء کښې چې بائبل په پښتو د سيرام پور پادريانو را اړولی دی نو هغه ژباړه هم مستند نۀ ده.مېجر راورټي په دې ترجمه زياته نيوکه کړې ده او خپل ګرامر په مقدمه کښې يوه جمله ورکوي چې دا په هيڅ ډول د بائبل د هغه آيت ژباړه نۀ شي کېدای او وائي:

"د نـوي عهـد نـامې د سـخارامپور د مشـيزانو (مبلغـانو) ژبـاړه د هغـه مقـدس تحريرونـو سـره لـږ مشـابهت لري.يـوه نمونـه ئـې "د سـرمن آن دي ماؤنـټ Sermon on the Mount" د غونډۍ هر سر خطبه هغه قول دی.

Judge not that ye be not judged.

انصاف مه کوئ د پاره د دې چې انصاف کړی شوی به نهٔ شئ.د دې جملې معنی ئې په انګرېزي کښې راوړې ده.

"Do not justice unto any one lest justice shall be done unto you"( 7)

ژباړه: تر هغو انصاف مه کوی تر څو چي تاسي هر يوه سره انصاف کيږي.

زما دا ترجمه شايد نيمګړې وي د بائبل بالخصوص د انګرېزي ژبې استاد د دې اصلاح حق لري چې د غلطۍ څخه بچ شو.

راورټي ليکي چې "په ژباړه باندي د مذهبي عقيدې د بې حرمتۍ الزام هم لګېدای شي ځکه نو بيا د دوئ په مشرۍ کښې د بائبل ژباړه د راورټي تر نګرانۍ لاندي وشوه خو دا ترجمه د مېجر راورټي نهٔ وه"(**8**)

پوهاند رشاد وائي چي د ډاکټر جان لانډن (**۱۷۸۵-۱۸۲۱**) د مخزن الاسلام د ژباړې له مخه د انجيل نورې ترجمې هم کړې دي.نو ښائي چې هم هغو ته اشاره وي چي راورټي د ټيټ معيار ګڼلې وي.

دلته استاد قلندر مومند چي په مېزان دويم چاپ کښې د راورټي کومه حواله ورکړې ده نو هغه ئې **۴۳** ليکي ده .حالانکې هغه د کال **۱۸۶۷**ء مقدمه په صفحه **۳۴** باندې ده.(**9**)

د سهرام پور د پادريانو نومونه لکه لېونتال ،تهامس جانی لی مهر ،ورتهنګټن جيو کس او په خپله چي ايچ راورټي ژباړه د بائبل د هغه قصې "د ورک زوئ قصه" په پښتو ژباړلې ده.نو قلندر استاد دا ګمان کوي چې دا د پښتو وړومبۍ افسانه نهٔ بلکې پښتو کښې د دنيا د وړومبنۍ افسانه نګار نهٔ شتهٔ.(**10**)

دا خبره د استاد مومند زیاته زښته خوندوره او په حقیقت مبني ده بلکې د پښتو ژبې د قدامت او پراخوالي يو نامحسوس خيال څرگندیږي خو د پټې خزانې د مسئلې په وخت د دوئ د پښتو ژبې د قدامت ښوونکو په هکله شدید عکس العمل ؤ.
استاد قلندر مومند لیکي چې:

"لرم پیرنگي (لوریمر چې یو آئ سي ایس افیسر ؤ او د کال **۱۸۹۷** ء څخه تر **۱۹۰۲** ء پورې په وزیرستان کښې فوجي او وروسته سول پولیټیکل پاته شوی ؤ هغه وزیرو د پښتو یو گرائمر ولیکلی نو په هغه کښې یو د فضول خرڅ هلک قیصه ده او دویم یوه طنزیه افسانه ده ځکه دا دعوه په یقین سره کېداۍ شي چې لوریمر دي د دې صدۍ په سر کښې د پښتو وړومبی افسانه نگار وي. (**11**)

لکه څنگه چې ما مخکښې ذکر وکړو چې دا قصه لوریمر ته ما د اکبر وزیر د توري خېلو ملک کړې وه نو ځکه د دوئ دا دعوه په خپله غلطه ثابتیږي چې دا د لوریمر طبع زاد افسانه وه بلکې د اولسي دود مطابق د وزیرو مشرانو له خولې اورېدلې قصه وه چې په هغه کښې د وزیرو د مزاج ،طبع ،دود دستور او د نفسیاتي فکر یو تصویر او د هغه قبائلي معاشرې د شک او بدلې یو اجتماعي رحجان دی چې په دې باندې د کتاب په اخر کښې دریمه ضمیمه کښې د وزیرو د ژوند ژواک او خدوخال او کرېکټر په هره معامله باندې ئې بحث کړی دی. (**12**)
خو دغه قصه او حکایت د دوی د ټولني يو بنیاد گرځولۍ دی.

په انقلاب پېښور میاشتني اېډیشن یکم مارچ **۱۹۸۶** ء کښې هغه قصه په وزیري لهجه او ورسره په رومن انگرېزي کښې لیکل شوی چاپ موجود ؤ ،ورسره ئې په مشرقي واله لهجه افغانۍ اصطلاح کښې هم لیکلې ده چې مونږ ورته د شمالي پښتونخوا لهجه وایو. خو د دوئ په مېزان لومړی او دویم اېډیشن کښې هغه قصه او د هغه وزیري رومن انگرېزي ځیني ایسته کړی شوې ده چې د دې علت معلوم نۀ دی ولې چې وروستنیو مرتبینو دا لاس وهنه کړې ده. (**13**)
لوریمر هغه قصه په ځلوېښتو جملو کښې لیکلې ده او عنوان هم لري "د وزیري ژوند ژواک قصه"ملک ماد اکبر دا قصه داسې کوي چې؛

۱: زۀ صاحب تللئ وم.جاني خپلو بکاخپلو و منصفي ته بوتلی وم.د دوئ مقدمې وې نورو باندې. ۲: بیا یو سړی ماته ورېغېدو نو چې یوۀ سړي د دې باندي وهلې په تندي وهلي وم. ۳: بیا د دوئ نه پوښتنه وکړه چې چا وهلئ ئي ؟

۴: دۀ ووې چې خپلې ښځې وهلئ یم. ۵: ما ووې چې څۀ وجه نه ئې ووهلئ ؟۶: دۀ و وې داسي ووهلم چې زما څلور تربرونه وو.بیا هغه کور ئې ماته راکړو،بیا مو دې ګزران کولو. ۷: بیا یوه شپه زۀ د خوب نه بېدار شوم،ښځه په تمبه (وره) ووته . ۸: بیامو شک پرېووت چې دا ښځه په چا مینه ده. ۹: بیا مي توره راواخسته ورپسې روان شوم.۱۰: بیا چې وو وور (باران) ؤ او تیارۀ وه ډېره سخته . ۱۱: بیا روانه شوه د کلي نه ووته په خوشي رغزئ روانه شوه. ۱۲: اخر ئې مزل ډېر وکړو.۱۳: بیا به یوۀ ځای چې دی سړی ناست دی .اس ئې تړلئ دی. ۱۴: بیا دا ورغله و هغه سړي ته.

۱۵: چې ورغله ورته ووې چې مړی خورې ؟ درته راوړې مي ده.۱۶ : دۀ ووې چې لاس مي مردار دي په اس کښې جام دی راوائې خله چې لاس ووینځم.مړی وخورم.۱۷: دوره ونۀ شوه اوبه ئې راوړې و هغه ته .۱۸: د دې مېړه چې ور روان شو او دی ناست دی هغه په تورې وې وهلو چې سر ئې وغورېدلی. ۱۹: چې دې اوبه راوړې دی مړ ؤ.۲۰: د هغې ښځې مېړه د هغه ځائ نه اوریا شوی ؤ چې دا ښځه مي نۀ ویني. ۲۱:چې دا ورغله دې ږغ وکه په خدای دي لړ ګاروه وې،یو ږغ وکه ،۲۲: دۀ ږغ تۀ کولو چې دا ښځه مي مړنۀ کړي چې ږغ وکم.۲۳: بیا چې دو دا ښځې دا مړی په اوس وتړو نو اس ئې روان کړو او په خپله مخه لاړ شو او مېړه کور په لوري روان شو او ده پسې روانه شوه.۲۴:دومره (دوره) دی رسولې نۀ وو چې دا ورسېده کور ته.۲۵: بس دا کور ته ورسېده ډېره ضعیفه او خفه وه.۲۶:سبا د روان شو ،مېړه ئې چې زۀ پوښتنه وکم چې یو سړی په خوشي راغزئ کښې مړ دی او څوک دی.۲۷:دئ وګرځېدلې چې د مړي پته و دۀ ته معلومه نۀ شوه.۲۸:دی راغی و کور ته بیا .۲۹:سونګه (چاره) ئې تېره کړه چې ښځه مي مړ کړي.۳۰:یوه شپه دۀ ورته ووې چې تمباکو راکه.۳۱: دې ووې چې په کوټه کښې تیاره ده.۳۲:دۀ ورته ووې چې په خوشي راغزی کښې ته تلې،ور هم ورېدۀ په هغه نۀ تیاره وه،په کوټه کښې خو نه ده.۳۳:ده ووې ماته معلوم نه وه.چې هغه دې ما اشنا تا مړکړئ دی.۳۴:دومره نۀ شوله

هغې ده مېږه توره واخستله ،مېږه ور وونیولو ،سانګه ئې ورته برابره کړه وئې وهله.دی په ورغله وئې وهله په سانګه په نس کښې.۳۵:چې د دې په نس سانګه ووتله،هغې په سانګه کښې ډېر زور وکړو ،توره وروړسېدله په تندي ئې ووهله او مړه ئې کړه.۳۶:دهٔ زړغ وکړئ وروڼو ته ،تربورانو ته،راشئ مړ ئې کړم.۳۷:دوئ ورغلل دوئ ئې په سانګه کښې نیولې وه.۳۸:وروڼو ئې تورې وکښې ،دوئ ئې ووهله او مړه ئې کړه.۳۹:دوئ د دې مېږه نه پوښتنه وکړه چې د مونږ خور تاسي څه وجه نه مړه شوه.۴۰:دهٔ ورته وویل چې په یوه خوشي راغزئي کښې مو د سړي سره لیدلې وه او سړی مې مړ کړئ او راته معلوم نهٔ شو چې څوک وُ.(14)

دا هغه قصه وه چې ما د اکبر ملک د جرګې د تجربو په لړکښې لوریمر ته ویلې وه.لوریمر د وزیر او مسعود دواړه او د نورو قبیلو د خلګو سره د تړون او خوئ خاصیت ټوله تر بحث لاندې راوستلي دي او دوئ ئې د شام د هغو سختو او ببرو عربو سره مشابه ګرځولي دي او په هغو کښې یو ملک کپت خان د جرګې کېس وړاندې کولو او د عربو د هغه مشهور اپیک داستان الف و لېله د هغه حاجي کردار پو لوري تللی دی چې حاجي د وزیر سړي تعریف داسې کوي.

"د اوښ شونډان ،د فیل دماغ او غاښونه لکه د ډبرې څوکه،او داسې شور او لڅ والی تر نامعقوله حده پورې ئې په هغه پورې تړله دا بیان لوریمر کوي او د دې قوم او ژبې سره د انتهائي خواخوږۍ هغه ټولې تجربې چې دهٔ کړې دي د هغه یادونه کوي .دښو څیو،بېټنیو د وړو،مسعود او وزیرو ټول فطري کوائف بیانوي،غربت،د غنمو ریاشه،او ژوند ،بدي او بې ځایه مړي،په خوشحالي کښې غم جوړ کړي،په اتڼ کښې په توره سړی وژل شوی دی.

د کال ۱۸۹۷ء قصه کوي چې د یوهٔ سپاهي څخه په اتڼ کښې توپک خلاص شو او سړی ئې وویشتلئ سم دم فېصله وشوه چې د سړي غاړې وریږې کړئ.کښې نور شر جوړېدهٔ،هم دغسې وشوه.

مسعود پسې د ګوریله ګانو غوندي دي.نوې اسلحه لري.د د یواله تر شاهم ځان خوندي کولائ شي.

لوریمر لیکي چي "دغه پورتنۍ قیصه چې ماد اکبر ملک د توري خېلو مونږ په دوهمه ضمیمه کښې ورکړې ده ”
“if not true it is probably founded on facts” که دا د رښتیاوو نۀ ده او چې نۀ ده خو بنیاد ئې په اغلبا په حقائقو شوئ دی.

اوس استاد قلندر مومند پورتنۍ قیصې ته لومړی انګرېز د پښتو افسانه نګار وټاکلئ او د هغو شاګردانو د هغه د کوچ کولو تر وخت پورې په هغه باندي په کلکه ولاړ ۀ. ښاغلي اسیر منګل چې له ښۀ مرغه په اردو کښې د افسانې په سلو کالو باندې کتاب ولیکئ نو د هغې قیصې د پوره ژباړې حق ئې هم ادا کړی نۀ دی او دا یو ډېر اهم ډائیلاګ ئې هېر کړی دی چې :"د مونږ خور خو د تاسې د وجې نه مړه شوه.(15)

دویم د ډاکټر زبېر حسرت د خبرې سره اتفاق کېدائ شي چې د "پښتو بدل"د هم دغسې قیصې اثرات څۀ بنیادي کېنوس له هغه څخه اخستل شوی دی .د ملک ماد اکبر په قیصه کښې هم سړی د ښځې وېرېږي او د "قیصه خوانۍ ګپ"،"د پښتون بدل"د اردو افسانې چې هغه د جالندهر په حفیظ پورې تړي نو دا شاید حافظ جالندهري وي.خو هغه د افسانه نګار په حېث نۀ دی تسلیم شوی او که داسې قیاس هم وشي نو د لوریمر قیصه تر اردو زیاته داستانونو او د عیار دانش او هغه کردارونو ته رسیږي چې داسې شک او میني او بدلې کېفیت په مشرقي داستانونو کښې شته لوریمر په خپله وائي چې دا لکه څنګه چې صیح نۀ ده یوه اولسي قیصه ده خو د دې ځای د ژوند سره سمون خوري له دې خبرې څخه یو مطلب صفا جوت دی چې لوریمر افسانه نۀ لیکله بلکې د وزیرو د ژوند حال ئې بیانولئ او د هغه د پاره د ملک ماد اکبر دا دی چې (صاحب زۀ تللئ وم جاني خېلو بکاخېلو او منصفي ته بوتلې،د دوئ مقدمې وې په نورو باندې چې لومړی ماته ورغېدو"اسیر منګل په ورستنۍ مقاله کښې له پخواني موقف څخه اعراض شوئ دی او دا دګل او صنوبر د پلاټ برخه بولي"(16)

تر دې ځایه د استاد قلندر دا موقف کمزوری شوی دی چې لوریمر پیرنګی د پښتو لومړی افسانه نګار ۀ.وروسته که راحت زاخېلي د افسانې امام دی په هغه هم هیڅ د وینا ځای نشته،ولو که د هغه افسانه "کونډه انجلۍ"په کال ۱۹۱۷ء کښې چاپ شوې

ده.ده هغه وخت د "افغان "او "سرحد" اخبار ټوله ریکارډ ضائع شوی دی.په خاصه توګه د سنټرل ریکارډ آفس پېښور څخه د مکموهن پارک سره موجود ؤ،هغه وخت پینځه دېرش کاله مخکښې ګمان کیږي چې موجود ؤ.

منشي احمد جان د "پښتون بدل"هم د افسانې بڼۀ شکل دی که څۀ هم د کرشن چندر د "پریتو"سره اړخ لګوي لکه څنګه چې اسیر منګل ورته اشاره کړې ده،کرشن چندر هم د انوار سهېلي ګل بکاؤ بي ګل او صنوبر ټولې قیصې لوستې دي او د استانونو کردارونه د افسانې بڼۀ شکل غوره کولاۍ شي.د لوریمر اوربدلې قیصه خو کټ مټ د ګل او صنوبر خاکه ده.د استاد قلندر په موقف باندې په لومړي وار ښاغلي زرین انځور په کابل مجله کښې د پښتو کیسه لیکنې د یوي نوې پاڼې څېړنه په کال ۱۳۶۶ء ،۶ او ۷ مه ګڼه کښې لیکي دي چې د لږم پیرنګي د مېړه او ښځې راغلی حکایت د لنډې معاصرې قصې په تله نۀ شي تلل کېداۍ او حتی د لنډې کیسې او افسانې مقدماتي او ابتدائي بېلګه ئې هم نه شو ګڼلی"(17) او د افسانې لومړی ډاکټر محمد اعظم خان اعظم هم د قلندر سره اختلاف کړۍ دی چې دغه طرز لیکونه د اولسي قیصو او نکلونو شکل دی"(18)

دانظر د وروستنیو پوهانو دی.زمونږ د موضوع په هکله راځو چې کله د ملکې وکټوریا پنځوس کلیزه ډائمنډ یا ګولډن جوبلي په کال ۱۸۹۷ء ولمانځل شوه.نو د برطانیې ایمپراطور د ټول برصغیر د لسانیاتي څېړنې د پاره جارج ګریرسن وټاکلی.هغه د هند د ټولو ژبو او لهجو د پاره یوه اوږده سلسله شروع کړه او دلینګوئسټک سروې آف انډیا په نامه د یوولسو جلدونو یو کار یې رسیږي.نو د هرې سیمې عالمان او پوهان او منشیان ئې د ځان سره ملګري کړل.د هرې ژبې ګرامر او د هغه د رسم الخط نمونه او لغات ئې را جمع کړل.

دا لسانیاتي سروې لسم جلد پښتو ته سپارلی شوی دی.په دې کښې د پښتو د هرې لهجې یوه نمونه او ګرامر او د لهجو فرق په کښې بیان شوی دی.د پښتو د ځلوېښتو لهجو د پاره هم هغه د ورک زوۍ قیصه په هره لهجه کښې لیکلې ده او ورسره په اوو لهجو کښې ئې بېله بېله قیصه هم ورسره لیکلې ده چې د وزیرو

یوه یوه د قصې د ورک هلک د لهجې او کندهار پښین د ،اپرېدو ،نیازیو ،مروتو ،ختکو،
دوی د لهجې قصه هم ده چې یا خو جغرافیائي حالات وائي او یا د نسل په باره
رواجي خبره کوي،خو نه هغه وخت کښې چې ټول راویانو د قصو ۱۸۹۸ء لیکل شوئ
دی نو د کوټې څخه اے جي جي د یوه منشي او عالم په ذریعه د پښین او کندهار د
سیمي د لهجې قصه وراستولې وه.
چې جارج ګریرسن په خپل کتاب کښې لیکلې ده لېکن هغوئ ضمناد ژبې د لهجو په
لساني بحث کښې د لوریمر د واقعې هم یادونه کړې ده خو په څلرویشتو لهجو کښې
ئې هغه ته ځای نهٔ دی ورکړی.
مرزا محمد اسماعیل یو پوه سړی چې د راورټي استاد ؤ او ملګری ئې ؤ او د انجیل په
ژباړه کښې د راورټي سره شامل ؤ پوخ ګمان دا دی چې هم دغه د پښتو معلم د پښین او
کندهار د سیمې دا کیسه او افسانه ګریرسن ته د اے.جي.جي کوټې په واسطه ورلېږلې
وه .ښاغلي زلمي هېواد مل د مرزا محمد اسماعیل په لړ کښې معلومات ورکړي دي او
د یوه بل مولوي اسماعیل ،د پښتونخوا د هزارې د ډودیال سره هم د التباس مسله یې
حل کړې ده چې هغه اصلا سواتی ؤ او د بهرام خان زوی ؤ.(19) جارج ګرېرسن لیکي:

“For the following specimens of the Pashto spoken round Kandahar and Pishin.I am in debted to kindness of the agent to the Governor General in Balochistan.I only give them transliteration.it will be seen that the language is very nearly standard Pashto”

ژباړه:.د پښین او کندهار د شا و خوا ژبې د لاندې نمونې د پاره زهٔ د بلوچستان د اے.جي.جي (ګورنر
جنرل ایجنټ) کوټې مننه او ستاینه کوم.زهٔ ئې یوازې د رومن ژبې ترجمه ورکوم.دا به تاسې وګورئ
چې دا بېخي وستېنډرډ (معیاري)پښتو ته ډېره نزدې ده.(20)

د دې هرې لهجې د نمونې د پاره زیاتره انګرېز افسرانوکار کړی دی.ډاکټر هرالډ ډین،مرزا سید
احمد خان،لېفټیننټ اوبرائن،سر وائټ کینګ .ډاکټر پېنل وو.دغو ټولو عالمانو د هرې لهجې بېل
بېل توکي شامل کړي دي.څلوویشت یو ډول او اووهٔ بل ډول قیصې دي.د اوو قیصو یو لیکوال معلوم
نهٔ دی،د هغه وخت مولوي احمد او د هغه را وروسته لیکوال د انګرېزانو منشیان موجود وو خو د
یوې قیصې د راوي په هکله د مرزا محمد اسماعیل کندهاري نوم قرین قیاس دی چې لومړی قیصه

او کټ مټ د افسانې یو خوندور انداز دی.مرزا اسماعیل او مرزا سید احمد خان د کال ۱۸۹۸ء په شا و خوا کښې د انګرېزانو سره د ژبې د زده کړې او تحریرونو د لیکلو کار پیل کړی ؤ.
زۀ ستاسو پاملرنه د هغه وخت د یو تحریر په لوري راګرځوم چې جارج ګریرسن ته د کوټې له خوا د پښين او کندهار دا قیصه وراستولې وه چې زۀ ورته افسانه وایم او ستاسې پاملرنه د دې تاریخي حقائقو او د ژبې د رواني او پر مختګ د پاره یو داسې خود ساخته یا په بله ژبه د فطري اظهار یو شاهکار دی چې د پښين او کندهار په ژبه کښې افسانه خوندور ښکاري.جارج ګریرسن د خپل کتاب لسم جلد په ۱۰۹ مخ باندې لیکي:

**د پښتو لومړی افسانه**

**امیر صاحب**:

اورېدلي مې دي چې امیردوست محمد خان یوه پلا په ژمي کښې ترکستان ته تئ چې هندوکش ته ورسېدۀ،شپه او واره ورېدله د پلټنې د سپاهیانو د بار اوښ ګوځار سوی ؤ.بارئې کوېدلئ ؤ.سپاهیانو هغه بار په بیارته (په وار) تاړۀ او په اوښ ئې باندې کاوۀ.په هغه وخت کښې یوه پلټنې د امیر دوست محمد خان د دوئ له څنګه تېرېدۀ دوئ نۀ ولیدۀ .هغه ښکنځل دۀ او وزیر محمد اکبر د دۀ زوئ واورېدۀ،امیرخپل غوږونه کاڼۀ واچول او وزیر محمد اکبر خان و نۀ زغمله ږغ ئې کړ چې دا کوم سپي وغپل ؟

د وزیر ږغ لکه تالنده (تنا) له نورو ږغو جدا ؤ.هر چا پېژاندۀ،سپاهیانو چې د هغه ډلوړ ونیواو ناره ئې کړه.محمد اکبره! هوش کوه چې بل ږغ دي تر خولۀ ونۀ وزي.د دوئ حال وګوره په ځای د دې چې د دوئ له ښکنځلو خفه شې ښائي چې په دوئ زړۀ وسو ځيږي که تۀ د دوئ په ځای وی نو به د دوئ حال ښۀ درته معلوم سوی وای.امیر دا وویل تېر سو وزیر هم چوپ کړ،په پلار پسې را رهي سو.سپاهیانو امیر هم په ږغ باندې وپېژند ،هغه پوچ خولې سپاهي ناره کړه.
آ ،میر ؟صاحبه ! تازۀ نۀ پېژندلم.

زما نوم خاټول دی د مړوند زوئ یم زوئ یم اندړ قوم د بخښي له کالۀ یم د بخښي په پلټن کښې د پنځمې ټولی دېرشم ځوان یم ته ماښۀ وپېژنه او واوره که خدای وخت راست او زۀ ستا په مخښې مړ نۀ سوم،زۀ حرامي یم.

پس له څو کلو ،په یوه مقدمه کښې چې ډېره سخته وه،د دښمن د خوا یو غښتلی غټ مشر و امیر ته ور وړاندې سو.توره ئې وکښله ،پورته ئې کړه.غوښت ئې چې په امیر باندې وار وکي.هغه ښاغلی سپاهي هلته نژدې ؤ،په تلوار ئې ځان د تورې او امیر تر منځ کړی.هغه توره چې امیر پورته سوې وه هغه په دۀ ولګېده،دۀ خندل او ناره ئې کړه چې "خدایه ! تاله دې شکر وي چې د هندوکش د شپې پوره وړی مړنۀ سوم.دا ئې ووئیل او د امیر اس په پښو کښې ولوېدۀ ساه ئې وختله".(21)

د کوټې څخه د ورلېږل شوي دغې قیصې د پښین او کندهار په لهجه کښې اغلباً مرزا محمد اسماعیل د پښتو افسانې هغه لومړنی بنیاد دی چې زمونږ د پښتو ادب د نوي صنف یوه په زړه پورې نمونه ده.

شروع ،پلاټ،کردارونه،وحدت تاثر او عروج او انجام تر ښېخې خوندوره حده پورې په کښې ځای شوی دی.زۀ ګمان کوم چې په کال ۱۸۹۸ء کښې که اردو افسانه لیکل شوې ده او نمونه ئې شته خو هغه هم د دې معیار سره برابري نۀ شي کولی چې د شار ،حب الوطني او بې ساختګي یوه نمونه ده.

دا خبري چې پښتو افسانه د اردو ژبې څخه پښتو ته راغله یا د انګرېزي ژبې څخه او یا د ملک ماد اکبر توري زئي د وزیري قیصې څخه نورو لیکوالو اخستنه کړې ده.محض یو خام خیالي.د پښتو ژبې داستانونه،په نظم او نثر کښې په خپله داسې وړې وړې قیصې لري چې په نورو ژبو کښې هم خپرې شوې دي.تر کومه حده چې د میاں ازاد ګل د کال ۱۹۱۰ء لیکې افسانې روایت دی.(22) نو هغه افسانه تراوسه چا موندلې نۀ ده.البته یو حقیقت پسندانه نظر دا دی چې د نوښار او د کاکاخېلو ډېر درانۀ مشران په همدغه موده کښې د نوو اصنافو د اردو څخه د ژباړلو داسې پوخ روایت موجود دی چې د توبت النصوح او مرات العروس رنګه ناولونه په پښتو په ډېر خوندور انداز کښې ژبارل شوي دي او د میاں ګانو کورنی په پښتو قدیم او نوي ادب باندې زیات احسانات لري. میاں حسیب ګل لومړي وار د ډپټي نذیر احمد ناول مرات العروس په کال ۱۲۹۳ء ه ق (۱۸۷۰ء) په احمد آباد کښې په پښتو کښې ژباړلی دی.او دغسې میاں محمد یوسف کاکاخېل د توبت النصوح ناول په کال ۱۳۲۲ء ه ق (۱۹۱۲ء) کښې ژباړلی دی.(23)

دا ګمان کېدلی شي چې د اردو څخه دي افسانې ژباړل شوې او یا طبع زاد لیکل شوې وي.استاد راحت زاخېلي د "کونډه جینۍ" چاپ ۱۹۱۸ ء افسانه چې په کښې مور هم د خپلې کونډې لور څخه دا نحوست اظهار کوي،نو دا یو ناشوني فکر او غېر فطري رویه ده او که د کال ۱۹۶۰ء کښې راحت د افسانې ۴۳ کاله شاته سفر سړی وګوري نو د کال ۱۹۷۷ء د پروفېسر افضل خان رضا را غونډې کړو(24) افسانو کښې د کمزورو قیصو مقائسه په وار خطائي کښې څوک اچولی چې دومره فرق څرنګه موجود دی.

د سرحد او افغان رسالې تر کال ۱۹۳۰ء را وروسته هم جاري وې .د قیصه خوانۍ ګپ په کال ۱۹۳۰ء کښې چاپ شو.(25) چې د انګرېزانو امتحاني ضرورت ؤ خو په کوټه او سهېلي پښتونخوا کښې هیڅ یوه رساله څه ،ناولده سړي ته د کوټې سفر هم ګران ؤ او اجازت یې هم غوښتو.په کال ۱۹۳۸ء کښې چې خان شهید عبدالصمد خان اڅکزئي په هند کښې د ډېر مشقت او محنت وروسته استقلال اخبار منظور او بیا په کال ۱۹۵۰ء کښې جاري شو نو په هغه کښې یوه صفحه د پښتو وه.دا

اخبار څو واربندیز سره مخامخ شو.په ۱۹۴۲ء کښې په ۱۹۴۶ء او په ۱۹۵۰ء کښې او د اسلامي مملکت د جوړېدو ورسته ورپسې هند او مدیر عبدالصمد خان دراني ئې په جېل کښې واچاوۀ یو کتاب هماري آزادي ئې هم لیکلی ۆ.له دې سره یو بل اخبار خورشید اسلام ، هم پښتو خپروله اوس په دا وخت کښې پښتون مجله خپرېده او خان شهید مضامین په کښې خپرول.اوس د هغه استقلال کاپیانې داسې غائبې شوې دي چې د سرکار په ریکارډ کښې هم نشته،په پنځلس کاله دې ضرور یوه افسانه لیکل شوې وي چې د هغې پلټنه په کار ده.

په کال ۵۳-۱۹۵۲ء کښې چې د کمال خان شېراني "پښتو"مجله خپرېدله نو په هغه کښې د فاروق شاه اسماعیل زئي د "بدل" په نامه یوه افسانه په کال ۱۹۵۳ء اګست کښې چاپ شوه.(26) مېرمنې فهمیده تاج د هغې افسانې په هکله پوره معلومات هم نۀ دي ورکړي یوازې د افضل خان او ګل احمد د کردار یادونه کوي.(27)

په دې لړ کښې دوو پوهانو ډاکټر نصرالله وزیر او جاوېد اقبال اقبال د پښتو ګلستان اولس مجلو په رڼا کښې د سهېلي پښتونخوا د افسانو جاج اخستی دی او ضمناً ئې زۀ د پښتو ادب د زرکلیز جاج څخه د لومړۍ افسانې "دمینې تور"د مولوي عبدالخالق تارڼ لیکې ده .ته اشاره کړې ده چې دا به لومړۍ افسانه وي.ګوا د دوئ اتفاق ورسره ګران ۆ که څۀ هم ما یوازې په اولس رساله کښې د تارڼ میاں د لومړۍ افسانې ذکر حتماً کړی دی .خو د فاروق شاه د افسانو یادونه مې ضرور کړې وه"(28)

سید فاروق شاه اسماعیل زی زمونږ د عصر یو ډېر پوخ او نابغه لیکوال دی.د هغه د لومړۍ افسانې څخه انکار چا نۀ دی کړی او نۀ د هغه مقالې لیکلو په وخت زمونږ هدف دا ۆ چې لومړۍ افسانه چا ولیکله.په دغه وخت کښې پښتون ،استقلال،خورشید،پښتو ،لار،رهبر،غونچه،ګلستان،الفلاح،جمهوریت ،پښتون ږغ،اولس،جمهور اسلام او ظفر اسلام غوندې رسالې راتلې،نو په دې څوارلس کاله کښې او په دې څوارلسو رسالو کښې به د پښتو افسانه ضرور چاپ شوې وي.ځکه نو چا ته لومړنی افسانه نګار وئېل به زیات د تامل وړ وي چې زمونږ د دې مقالې موضوع هم دغه ده چې یو سل لس کاله وړاندې لیکلې او اورېدلې قیصه هم لومړۍ افسانه نۀ ده او د پښتو لومړۍ افسانه نګار لړم پیرنګی ثابت نۀ دی بلکې ماد اکبر خان ملک توري خېل دی.که راوي ته څوک اهمیت ورکړي زمونږ په مشرانو کښې فاروق شاه اسماعیل زی،پروفېسر ربنواز مائل او سلطان محمد صابر داسې شخصیات دي چې دوئ په افسانه باندې طبع آزمائي کړې ده.د فاروق شاه افسانه زیاته فني او د ژبې سلیقه او مقصدیت لري.د سلطان محمد صابر یو درې څلور افسانې د یادولو وړ دي او د اتفاق خبره ده چې د محمد علي بازئي (مملوکه د ابوالخېر ځلاند) "ولور مات شو"او د سلطان محمد صابر "د ماشوم ژړا" سره په مخکښې افسانه لیکې ده،لکه د لیکوال چې هم دا

خواهش وي.بیا دا په اولس رسالو کښې رواج جوړ شو.هسې دوې درې افسانې هر لیکوال لیکې دي خو ځنې لیکوال بیا په خصوصي ډول په دې صنف کښې لیکل کوي.داسي خوندور جاج د دوئ د افسانو چا پوره نۀ دی اخستی چې د معاصرو سترِیا ته څوک ځان وتړي.چې په اولس کښې چاپ شوې دي.دا ټول د قدر وړ دي خو دا خبره نامناسبه ده چې څوک دعوه وکړي چې زما افسانه لومړنۍ ده.مولوي عبدالخالق تارڼ زما استاد ؤ.هغه ما ته په ۱۹۷۱ء کښې په رود ملازئي کښې د خپل ژوند د سترِیو او لیک په باب کښې ډېر څخه ښودلي وو.په ایوبي دور کښې درې کاله په جېل تللی ؤ چې په کال ۱۹۶۳ء راخلاص شو او هغه افسانه دور دوئ ښوولې وه چې په کال ۱۹۶۷ء کښې په اولس کښې چاپ شوې ده.(29)

کله چې ما د زر کلیز جاج د پاره مقاله لیکله نو حتماً د اولس رسالو ته مجبور شوم چې هلته د محمد علي بازئي "ولور مات شو"په کال فروري ۱۹۶۴ء اولس مجلې حواله ما ورکړې ده.خو تحقیق یو بېل موضوع دی چې محققین په دستاویزي ثبوت او اسنادو باندې خبره کوي.

ځلاند صاحب ته دي معلومه وي چې اولس رساله د حکومت د تبلیغاتو رساله وه او مدیران ئې تر ۱۹۷۰ء پورې ټول د پېښور ښۀ درانۀ لیکوال لکه په خصوصیت سره قاضي سعید مروت ؤ،فضل احمد غازي ،سلطان محمد صابر دواړه لوئ لیکوال هم وو او قابلِ احترام هم او په خپلو کښې ئې ادبي او سیاسي مخاصمت هم درلود.دوئ به په خپله مضامین د نورو لیکوالو په نومونو چاپول .

دلته دا غرض نۀ دی چې چا څومره او کوم یوه له مخه دا کار تر سره کړی ؤ،سید فاروق شاه،ربنواز مائل ،فضل احمد غازي او سلطان محمد صابر زیات قدرمن لیکوال او مشران دي.د فاروق شاه اسماعیل زي د پښتو مجلې افسانه "بدل"په کال ۱۹۵۳ء کښې په پینځلس کالني عمر کښې لیکل هم یو قابل تحسین او د تعجب خبره ده.او د پښتون بدل او پریتو سره پر تله کول هم دي.ځکه فاروق شاه د ژور فکر خاوند ؤ.د هغه د خوښې لیکوال خلیل جبران ؤ نو ځکه زۀ د فاروق شاه افسانه طبع زاد بولم.تر ځلاند صاحب دوه کاله وړاندې سلطان محمد صابر یوه افسانه د وړوکوالي واده په اولس جنوري ۱۹۶۲ء کښې چاپ کړې وه او ورسره لیکلي ئې دي "افسانه که حقیقت ؟"ځکه د دوئ تخلیقي حېثیت مسلم دی.ځکه تر څو چې د پورتنیو رسالو ټولې ګڼې وکتل شي او د تېرو پنځلسو کالو محیط هم لویه موده ده چې ډېر ادبي او سیاسي بدلون هم مېنځ ته راغلی ؤ.

اوس د اکتوبر ۱۹۶۱ء څخه اولس شروع شو په لومړۍ ګڼه کښې تر ټول اهم مضمون د سلطان محمد پاني " نرینو " دی،د هغه وروسته د مائل صاحب د کال ۱۹۶۵ء کښې د وطن د جنګ د حالاتو په وجه او لفتهن په لس کاله کښې ولیکلی.او یاد داښت دی.او د فاروق شاه اسماعیل زي په اولس کښې په دا لس کاله کښې افسانه نشته او تحقیق او تخلیق شته،البته په ظفر الاسلام،بریښنا او هېواد کښې د هغۀ لیکونه هم شته.خو فاروق شاه یو نقاد هم دی چې تخلیق کوونکی دی.په کال ۱۹۵۷ء ګلستان کښې په خلیل جبران زیښته ښۀ لیکونه او بیا څو افسانې لیکلې دي خو دوئ د حمید بابا ،کاظم خان شېدا او پیر محمد کاکړ د شاعرۍ په تخلیقي او تنقیدي اړخ باندې زیات فکر انګېز لیکونه کړي دي او هم ئې ازاد نظم او غوره نثر پارو ته رحجان ؤ.ګوا مائل صاحب او فاروق شاه صاحب د نوې زمانې د تعلیم سره سره درانۀ لیکوالان دي چې پښتو ته ئې ډېرې معیارې لیکنې بخښلې دي.زمونږ د دې څېړنې د اصل موضوع سره تړلې یوه وینا دا ده چې د ډاکټر نصرالله وزیر صاحب دا خبره زیاته د تامل وړ ده او اتفاق ورسره نۀ شي کېدی چې جي جي لوریمر د پښتو قیصې په لیکلو د پښتو ادب یوه اتفاقیه وبولو"(30)چې هغه لومړنی لیکوال ؤ بلکې تر هغه له مخه نور منشیان او پوهان هم ډېر وو.په اخر کښې د استاد قلندر مومند او د هغۀ شاګردانو دا موقف هم درست نۀ دی چې انګرېز پولیټیکل د پښتو افسانې ابتدا وکړه.

# حوالې

(1) Lorimar, J.G, The Grammar and Vocabulary of Waziri Pashto, Calcuta,1902,page of dedication.

(۲) هم دغه،مخ ،۲۳

(۳) مومند ،قلندر ،انقلاب مشموله ،پېښور،یکم مارچ ۱۹۸۶ء

(۴) مومند ،قلندر،قند ،افسانه نمبر،مردان ،۱۹۵۸ء

(5) Toyan Bee,Arnold ,Man Kind and Mother earth,1976,p 100.

(۶) مومند ،قلندر،میزان،دویم چاپ ۲۰۱۱،قلندر ریسرچ سېل پېښور،مخ ۱۱۱.

(۷) ګرامر آف دي افغان لېنګوئج،دویم چاپ،مقدمه،۱۸۵۹،کلکته ،مخ ۳۴.

(۸) رشاد ،پوهاند ،په خارج کښې پښتو څېړونکي،د ګلشن روه مقدمه،کابل،۱۳۵۶ ه ش،مخ ۱۷.

(۹) مومند ،قلندرمیزان،مخ ۱۱۱.

(۱۰) هم دغه،مخ ۱۱۲.

(۱۱) هم دغه،مخ ۱۱۳.

(۱۲) لوریمر،د وزیري پښتو ګرامر،کلکته ،۱۹۰۲،مخ،۳۴۵-۳۱۸

(۱۳) مومند ،قلندر،میزان،مخ ۱۱۳.

(۱۴) لوریمر، د وزیري پښتو ګرامر، کلکته، ۱۹۰۲- مخ ۳۱۳،۳۱۴،

(۱۵) منګل، اسیر، پشتو افسانے کے سو سال، پشاور، ص ۱۹، ۱۸۔

(۱۶) منګل، اسیر، پښتو افسانه د یوې صدۍ قیصه، مشموله تکتو مجله دویمه ګڼه، پښتو څانګه

بلوچستان

پوهنتون کوټه، جولائي، دسمبر ۲۰۰۹ء مخ ۹۰.

(۱۷) کابل مجله، ۶، ۷ ګڼه ۱۳۶۶ ه ش، مخ ۵۲-۵۳.

(۱۸) لنډه کیسه، شمشاد مجله دویمه ګڼه. ۱۳۷۲ ه ش، مخ ۱۱.

(۱۹) هیواد مل، زلمی، د پښتو نثر اتۀ سوه کاله، ۱۳۷۵ ه ش، لاهور، مخ ۶۰۰.

(۲۰) ګریرسن، جارج ابراهام، لېنګوسټک سروې آف انډیا دویم چاپ، کلکته، ۱۹۲۱ء، مخ ۱۰۵.

(۲۱) هم دغه، مخ ۱۰۹-۱۱۰.

(۲۲) مومند، قلندر، میزان، مخ ۱۱۰.

(۲۳) هیواد مل، زلمی، د پښتو د نثر اتۀ سوه کاله، مخ ۵۸۹-۵۹۰.

(۲۴) رضا، افضل، پروفېسر، د راحت زاخېلي افسانې، پښتو اکېډمي پېښور، ۱۹۷۷ء، مخ

(۲۵) احمد جان، منشي، د قیصه خوانۍ ګپ، ۱۹۳۰ء، مقدمه د قلندر مومند، ۱۹۸۵ء، مخ

(۲۶) اسماعیل زی، فاروق شاه، (بدل افسانه) مشموله، پښتو ګڼه، اګست ۱۹۵۳ء مخ

(۲۷) د فهمیده ،تاج،د اېم فل تهېسسز ،پښتو څانګه ،بلوچستان پوهنتون کوټه،ناچاپ

(۲۸) وزیر،ډاکټر نصرالله ،مشموله،تکتو دویمه ګڼه،جولائي-دسمبر ۲۰۰۹،

پښتو څانګه بلوچستان پوهنتون کوټه،مخ ۴۲

(۲۹) تارن،مولوي عبدالخالق،افسانه،اولس مجله کوټه،دسمبر ۱۹۶۷ء،مخ

(۳۰) وزیر،ډاکټر نصرالله ،مشموله،تکتو دویمه ګڼه،جولائي-دسمبر ۲۰۰۹،

پښتو څانګه بلوچستان پوهنتون کوټه،مخ ۶۱